مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین
۲۰۲۰/۰۳/۰۷

# د ښځو نړیواله ورځ



د پنځه زره کلن تاریخ والا، د یویشتمې پیړۍ ښځې؟

د مارچ اتمه نیټه چې د نړۍ له ښځو سره د پیوستون د ورځې په نامه نومول شوې، د ښځو پر وړاندې د تبعیض خلاف د سیاسي او ټولنیزې مبارزې تاریخي ورځ ده.
نږدې سل کاله تیرېږي، چې په بېلابېلو برخو کې، لکه سیاسي، ټولنیزو، حقوقي، اقتصادي، کورنیو حقوقو او داسې نورو برخو کې، چې په نړۍ کې د ښځو پر وړاندې تعصب روان دی پرله پسې مبارزه کیږي، مګر بیا هم د نړۍ په ټولو هیوادونو کې د ښځو پر وړاندې په مختلفو برخو کې تبعیض او تعصب لیدل کېږي.
د شلمې پیړۍ په لومړیو کې په کم معاش سختو او غیر انساني شرایطو هغه ښځې او نارینه چې یو ځای صنعتي فابریکو ته ننوتلي وو اړ شوول، چې د دغو بې عدالتیو پر وړاندې منظمه او پلان شوې مبارزه پیل کړي. په دې ورځ د نساجۍ د یوې فابریکې ښځینه کارګرانو، چې د جامو جوړولو په یوه لویه فابریکه کې یې کار کاوه د دغو سختو کاري شرایطو پر وړاندې یې په اعتصاب لاس پورې کړ.
دا چې ولې د مارچ اتمه د ښځو نړیواله ورځ ده غواړم په دی هکله لنډو معلوماتو ته اشاره کوم.
د مارچ اتمه په نیویارک کې د کتان د فابریکې د کارکوونکو ښځو د مبارزو نه راپیل کېږی چې په ۱۸۵۷م کال کې پیل شوې ده.
د ۱۹۰۸ میلادي کال د مارچ په اتمه نیویارک کې د کتان نساجۍ د فابریکې ښځینه کار کوونکو د پورتنی اعتصاب د نمانځنې په موخه په کار بندیز لاس پورې کړ او د فابریکې خاوند د دې لپاره، چې له اعتصاب سره د فابریکې نور کارکوونکي یو ځای نه شي او یا هم دا اعتصاب د فابریکې نورو برخو ته و نه غځیږي دوی یې د خپل کار په ځای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کې بندې کړې. په همدې وخت کې د یوه نا معلوم دلیل له امله په دغه ځای کې اور ولګید، چې د ګوتو په شمیر ښځې له هغه ځایه ژوندی ووتلې او پاتې ۲۹ ښځې پکې وسوځیدې. همدا وه، چې د مارچ اتمه په دودیز ډول د ښځو پر وړاندې له بې عدالتی او زور زیاتې سره د مبارزې د ورځې په نامه په ذهنونو کې پاتې شوه.
په را وروسته کلونو کې د امریکا او اروپا په مختلفو هیوادونو کې د کارې اعتصابونو او لاریونونو په شکل د تبعیض، زور زیاتې، کارې استعمار پر وړاندې مبارزه پیل شوه او همدارنګه په ټولنه کې د یو ډول حقوقو د تر لاسه کولو لپاره هلې ځلې پیل شوې. له دې ډلې یوه هم آلمانې میرمن کلارازتکین وه، چې د ۱۸۵۷- ۱۹۳۳ م کالونو په منځ کې یې په آلمان کې په ورځ کې آته کارې ساعتونه، د زیږون په ورځو کې ځانګړې رخصتې او له قانون سره سم ټول حقوق و غوښتل.
په اروپا کې د ښځو دویم سوسیالیستي کنفرانس، چې په هغه کې د نړۍ له ۱۷ هیوادونو سلو ښځو برخه اخستې وه د ۱۹۱۰ کال د اګست د میاشتې په ۲۷ د میرمن کلارازتکین په غوښتنه د دنمارک په پایتخت کوپنهاګن کې جوړ او د مارچ اتمه د ښځې ورځې او د ښځو پر وړاندې د زور زیاتې او د هغوی پر وړاندې د تبعیض په ضد د مبارزې د ورځې په نامه ونومول شوه.
ښځه د ټولنې نیمه برخه جوړوي، نو ځکه د پرمختللو ټولنو د ژر او سیستماتیک رشد او انکشاف اساسي لامل په سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو چارو کې د ښځو د ګډون او برخه اخستو محصول دی.
ټولو ته جوته ده چې په نړۍ کې ښځو هغه سترې چارې تر سره کړې چې په خپل وخت کې ګوته ورته د په غاښ کیدو ده.

والنتینا ترشکوا لومړنۍ هغه قهرمانه ښځه وه چې په پخوانې شوروی اتحاد کې یې نړۍ ته بل رنګ ورکړ. نوموړې په ۲۲ د جون د۱۹۶۳ز کال شپږمه وستوک فضا ته ورجګه کړه او د ۳ ورځو په لړ کې یې د فضائی څیړنو وروسته په شجاعت له فضا راکوزه شوه او د شوروی اتحاد د ښځو د اتلې نوم یې خپل کړ.
ښځه هم مور ده هم خور او هم د ژوند ملګرې، خو په وروسته پاتې ټولنو او په خاصه توګه زموږ په هیواد افغانستان کې له ډیرو ناوړو پدیدو، ناخوالو او دودونو سره لاس او ګریوان ده چې حتا له خپلو انساني، مدني او اسلامي حقونو نه محرومې پاتې شوې دي.
همدا اوس هم د هیواد په مختلفو برخو کې د ښځو نه د یوې وسیلې په توګه استفاده تر سره کیږي او د ټولنې د ناوړه دودونو، بدل، د پورونو په مقابل کې ورکول، له کوچنیوالي نه د چا په نوم کول په بدو کې مقابل لوري ته سپارل، د خانانو او زورواکو له لوري د جنسي تاوتریخوالي په لومو کې راګیریدل او په لسګونو نور همداسی تبعیضونو او ناخوالو سره مخ دي.
زموږ په هیواد افغانستان کې د ښځو د حقونو د دفاع یو شمیر ټولنې په دې باور دي چې په بیلابیلو سیمو کې د ښځو حقونو ته هغه شان پاملرنه نه ده شوې چې په ځانګړو ښارونو او ولایتونو کې شوې ده، دغه ټولنې وایي که څه هم د نوي حکومت له جوړیدو کلونه تیریږي، خو لاتراوسه پورې په افغانستان کې د ښځو ټولنیز او اقتصادي وضعیت د پخوا په څیر د اندیښنې وړ دی او له هغوی سره د زورزیاتې کچه هم لوړه شوې ده.
د امریکا او متحدینو د ځواکونو له راتګ سره د ښځو د حقونو او آزادیو موضوعګانې د افغانستان د بیا رغاونې یو له اړینو موخو نه شمیرل کیدې، خو بیا هم له اړتیا سره سم کار ورته ونه شو، د هیواد مرکز کابل ته باید ونه کتل شي حتا ولیدل شول چې په کابل کې فرخنده په څومره ظالمانه ډول و سوځول شوه او خپل ژوند یې له لاسه ورکړ.
همدا دول ډیری ښځې دي چې له خپلو حقونو خبرې نه دي، له زده کړو بې برخې پاتې دي او روغتیایي او خدمتونو ته لاسرسی نه لري . د ښځو ځان سوځونې، پر هغوی جنسي تیری او داسې نور تر ټولو بد تاوتریخوالی دی چې همدا اوس هم په هیواد کې ښځې ورسره مخ دي.
د هیواد په ۴۰ کلنې رواني غمیزې کې تر بل هر چا ښځې ډیرې زیانمنې شوې دي، چې له کار، تحصیل حتا عادی ژوند نه هم محرومې شوې او ډیرې یې د هیواد پریښودو ته اړ شوی دي.
له وروسته پاتې هیوادونو سربیره په پرمختللو هیوادونو کې هم د ښځو او نارینه ترمنځ توپیر تر سترګو کیږي، په ډیرو پرمختللو هیوادونو کې د ښځو عاید د نارینه په پرتله کم دی او د ښځو لپاره د زده کړې او روغتیا امکانات محدود دي، د نړۍ دوه پردری برخه نالوستې ښځې تشکیلوي او همدا رنګه د جنګ قربانیان او کډوال هم ډیری ښځې دي.

**د ښځو درناوی باید وشي!**

**د مارچ اتمه دې بختوره وي!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنې له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ